# كُلُّ أُمَّتِي مُعَافًى إِلَّا المُجَاهِرِينَ

له ابوهريره -رضي الله عنه- څخه روايت دی وايي چې: ما له رسول الله -صلی الله عليه وسلم- څخه اورېدلي دي چې ويل يې: «كُلُّ أُمَّتِي مُعَافًى إِلَّا المُجَاهِرِينَ، وَإِنَّ مِنَ المُجَاهَرَةِ أَنْ يَعْمَلَ الرَّجُلُ بِاللَّيْلِ عَمَلًا، ثُمَّ يُصْبِحَ وَقَدْ سَتَرَهُ اللَّهُ عَلَيْهِ، فَيَقُولَ: يَا فُلَانُ، عَمِلْتُ البَارِحَةَ كَذَا وَكَذَا، وَقَدْ بَاتَ يَسْتُرُهُ رَبُّهُ، وَيُصْبِحُ يَكْشِفُ سِتْرَ اللَّهِ عَنْهُ».
«زما ټول امتيان بخښل شوي دي پرته له هغو څخه چې د - ګناه - ښکاره کوونکي وي، او -ګناه- ښکاره کوونکي خلک هغه دي چې: يو سړی د شپې يو کار (ګناه) وکړي، بيا په داسې حال کې سهار کړي چې الله د هغه ستر او پرده کړي وي، بيا ووايي: اې فلانيه! ما تېره شپه داسې او داسې وکړل، او حال دا چې هغه به په داسې حال کې شپه تېره کړې وي چې الله تعالی د هغه ستر او پرده کړي وي، خو دی به سبا د هغه څه څخه پرده پورته کړي چې الله پرې پرده اچولې وه«.
[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم څرګندوي چې ګناه کار مسلمان ته د الله تعالی د بخښنې تمه شته، مګر هغه څوک چې په وياړ او سرکښ‌ سره خپله ګناه اعلانوي نو هغه د بخښنې وړ نه دی. څکه چې هغه کله د شپې ګناه وکړي نو سبا پرې د الله جل جلاله اچولې پرده له ځانه لرې کوي، او نورو سره په خبرو کې وايي چې پرون مې فلان‌ ګناه کړې ده، پداسې حال کې چې الله تعالی د شپې پرې پرده اچولې وه، نو کله چې سهار کړي د الله تعالی پرده له ځانه لرې کړي..!!

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3756

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee